پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۲۲/۰٤/۲٦

# د امان الله خان مالی او اقتصادی ریفورمونه

## ( دغازی امان الله خان د درناوی د اونۍ په مناسبت)

د پاچا امان الله خان د اصلاحاتو په تطبیق کی یو غوره گام په مالی چاروکی سمون او نوښت و. پاچا د اقتصادی زیربنا په اهمیت پوهید او اقتصادی استقلال یی د سیاسی استقلال ملاتړ باله. دغه پاچا د ډیرو نورو اقتصادی تدابیرو او پروژو ترڅنګ، بانکنوټ نشر کړ او پخوانی جنسی



مالیات یی په نقدی واړول، دا اقدام هم مودی او هم د دولت د خزانی لپاره گټور و. د ملت د اکثریت (بزگرانو شپنو او پیشه ورانو) په وړاندی یی پخواني درانه بارونه سپک کړل، جنسی مالیات، د خریدارۍ د غلي حواله کول او اجباري اذوقه رسول یې منع کړل؛ د ډیرو زیاتو پراوونو لرونکو دولتی مالیاتو د راټولولو، ستومانه کوونکی اجاره داری، د مالیه ورکوونکی او مالیه اخیستونکی تر منځ د فیوډال او مَلکانو واسطه، د قریه داری زوړتشکیل، د ناشمیرل شویو څارویو د مالیاتو اخیستل اجباری کار او بیګار، له پیشه ورو او صنعتکارو څخه د بازار بیلابیل ټکسونه او نور یی ټول منع کړل. د ځمکي مالیات هم په نغدي بڼه واړول شول او ټول مالیه ورکوونکی په سیده توګه پرته د مَلک او خان په پام کی نیولو څخه د دولت له مالی دفترونو سره وتړل شول. دولت خپل ټول ضرورتونه په نغدو پیسو او په خپل زړه پیرودل د څاروی روزونکو څاروی هر کال شمیرل پیل شول او د هغو د موجودیت له مخی به مالیه اخیستل کیده او د دی موخی لپاره یو جلا قانون (نظامنامه/قانون مواشی) جوړ شو.

د مالی او پولی مسایلو د ښه تنظیم په خاطر دا وخت نوي افغانۍ (ملی کرنسی)د پخوانیو افغانی روپیو په عوض جریان ته وونلي، دا کرنسی او بانکنوټ همدا د (ISO ٤٢١٧: AFN) اصلی کود لرونکی وي، چي په کال ۱۹۲۵ م. کي معرفی شوی. مخکی تردي له ۱۸۹۱ م. راهیسی د امیرعبدالرحمن خان او امیرحبیب الله خان وختونو کي افغاني روپۍ چلیدی او هند کي هندی روپی چلیدی. پاچا امان الله خان وروسته د استقلال تر لاسه کولوڅخه دسکي ترڅنګ بانکنوټ نشر کړ (افغانستان دکاغذی پیسو لرونکی شو)او د پیسو پالیسی یی طرح کړه. دپیسو او بانکی چارو قانون (نظامنامه) یي هم نافذه کړه.

په کابل کی د مالیی د اداراتو د چارو د تنظیم په خاطر د "اصول دفتر" ښوونځی پرانیستل شو چی مدیر یی مرزا مجتبی خان و او د دغه ښوونځی فارغان به د هیواد د مالیی په دفترونو کی گومارل کیدل. دغه کار د هیواد زړی حسابی چاری په یوه نوی عصر سیستم باندی واړولی چی ښاری بڼه یی غوره کړه. د کرنی مامورینو او د مالیاتو د تحصیل لپاره هم

په ۱۹۲۳ م. کی یو شمیر قوانین جوړ او وضع شول. د با خبره حکامو د روزنی په خاطر په مرکز کی د حکامو ښوونځی جوړ او فارغان یی سیمه ییزو ادارو کی مقرریدل او د حکامو او مامورینو د دندو قانون یی جوړ او د اداری د تنظیم چاری یی په ۱۹۲۲ کال کی سمبالی کړی له دی څخه یو کال مخکی یی د تشویق ضایع په نوم قانون پاس کړی و چی د مالیاتو د ریفورم له طریقه یی د صنایعو وده هڅوله. همدارنګه د تولیداتو د هڅونی په خاطر یی تقاوی وضع کړه. سره له دې چی د دولتی املاکو د پلورنې قانون په ۱۹۲۳ م.کی د ځمکو د له لاسه وتلو او د بزګرانو د زیانمن کیدو لامل شو او له بلې خوا يې خصوصی ملکیتونه پیاوړی کړل، خو بیا هم یو ګټورقانون جوړ شو او موقوفه اراضی هم لا دمخه له منځه ولاړل. سوداګری هم پراخه شوه بی شمیره د هیواد دننه ګمرکونه راکم، خو اصلاح شول. د دغو ټولو ریفورمونو په پایله کی د پانګوالی پرمختګ ګړندی شو، د سوداګریزو معاملاتو لپاره شرعی محکمی جوړې شوې او یو شمیر تجارتی شرکتونه لکه تنویرات، موټر، درمل، رفقای افغان، اتحاد افغان، قمر، ضیا او جرمنی شرکتونه او د شوروی تجارتخانه او نور جوړ شول. د انګلیس له دولت سره یو سوداګریز قرارداد لاسلیک شو د افغانستان سوداګریز استازی قونسل او وکیل التجاره د افغانستان ګاوندیو هیوادونو کی وګومارل شول او سوداګریزی چاری یی اسانه کړی. دخصوصی سکتور ترڅنګ؛ دولت هم ملی تجارتی موسسات لکه امانیه شرکت او ثمر شرکت او نور جوړ کړل. له دی امله چی تر دی مهال پوری په افغانستان کی د اروپا پانګه نه وه راغلی خو ورو ورو د اروپا سوداګری مخ په پیاوړتیا وه، خو دغه ډول سوداګری د داخلی صنایعو د پرمختګ لپاره خنډ شوه دا ځکه چی د هیواد اقتصاد په ډیر لومړنی حالت کی او وروسته پاتی و مملکت کومی فابریکی پاخه کارګرا او د وسپنی پټلی نه لرله نو ځکه امانیه دولت په دی لټه کی شو چی افغانستان ته فابریکی او د وسپنی پټلی راولی او د ۱۳۰۷ کال په لویه جرګه کی یی دا خبره توضیح کړله چی دولت د الوتکو د ترمیم د یوی فابریکی په لټه کی دی او له موجوده د فابریکی پرته به یوه فابریکه هم د سپینو باروتو د تولید لپاره جوړه شی په افغانستان کی لومړنی باروت جوړوونکی ترکی متخصص رضابیک و چی د لومړنی نړیوالی جګړی د کلونو په ترڅ کی دلته اوسید او سپین باروت یی جوړول دغه شخص په ۱۹۲۱ م کال ومړ او پاچا په خپله د هغه په جنازه کی ګډون وکړ د هغه یو شاګرد فیض محمد نومی د دولت له دوو فرانسوی او جرمنی شرکتونو سره یو قرارداد لاسلیک کړ چی د هغه له مخی به په لسو کلونو کی د وسپنی پټلی له جنوب څخه تر شمال پوری وغځول شی د دغه کار د سروی لپاره ځلور تنه فرانسویان کابل ته او بیا له دی ځایه کندهار ته ولاړل همدارنګه د تیلیفون او تلګراف د لین د غځولو چاری له مرکز څخه تر ولایتونو پوری پیل شوی په پغمان جلال اباد او کندهار کی د بریښنا په ستیشنونو باندی کار پیل شو د څرمن جوړولو باروت جوړولو سمنټو او ګوګړ جوړولو فابریکو ته بریښنا ورسول شوه د موټر د ترمیم د پرزو جوړولو صابون عطر تار جوړولو او رخت اوبدلو ترکانی او یخ جوړولو فابریکی او د پومبی د غوړ ایستلو ماشینونه په کندهار مزار او هرات کی جوړ او ودرول شول په همدی ډول د لاندنیو فابریکو جوړول هم په پام کی ونیول شو قندسازی نساجی د نخی او جیم ټوکرانو جوړولو فابریکه د تنی جوړولو فابریکه د میوی ساتنی فابریکه د کوچ او پوڅی جوړولو فابریکه د تیل خاک فابریکه او د کابل مزار شورروی او ایران او ترکیی تر منځ د هوایی ډاګ د چارو پیل کول د غزنی د سراج او بند غازی د اوبو بندونه جوړ شول، د ځمکنیو د اوبو بند ترل او د نهر رزاق بشپړول هم تر لاس لاندی ونیول شول دولت د جرمنی له هیواد څخه د کاملته الوداد تجارتی معاملو حق او د پولند له هیواد څخه یی د ترانزیت حق ترلاسه کړ او له مسکو او برلین سره یی د سوداګریزو قراردادونو په هکله خبری پیل کړی د نورو قراردادونو د ترسره کولو، د بدخشان د لاجبرو، د هرات د تیلو او د وسپنی ویلی کولو، د وسپني د کانونو، د ډبرو، سکرو، ګوګړو، سرپو، شوکاني، مرمر، سپینی خاوری او نورو چارو په خاطر یی پروګرامونه تر کار لاندی ونیول او د پکتیا، اسمار او نورو ځنګلونو د تنظیم او اداری لپاره یی پروګرامونه پیل کړل. همدارنګه د آسونو د نسلونو د زیاتوالی، د قره قل د نسل د عمومیت موندلو او د ورینمو د چینجو د روزنی لپاره پلانونونه جوړ شول. په کابل کی د ملی صنایعو نندارتون جوړ شو د دولت مامورینو ته له وطنی رخت څخه د جامو استعمال جبری شو. د دغو ریفورمونو په پایله کي د دولت عایدات له پخوا څخه زیات او دوه برابره شول او په کال کی له ۸۰ میلیونو روپیو څخه ۱۸۰ میلیون روپیو ته ورسیدل(٪۲۲۵افزایش) دغه عاید له لاندنیو سرچینو څخه و:

د ځمکو مالیات ۸۰ میلیونه، د څارویو مالیات ۲۵ میلیونه، ګمرکی مالیات ۴۰ میلیونه، د صکوکو محصول لس میلیونه، نور عواید ۲۵ میلیونه او ټول ۱۸۰ میلیونه روپی. د دولت لوی لګښتونه دا وو:



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالي دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

- د حربيې وزارت ۴۰ ميليونه.
- د معارف وزارت ۱۵ ميليونه.
- د بهرنيو چارو وزارت ۷ ميليونه.
- د ماليې وزارت ۳ ميليونه.
- د تعميراتو لګښت ۱۰ ميليونه.
- د دربار وزارت ۲۰ ميليونه.
- د کورنيو چارو وزارت ۱۲ ميليونه.
- د عدليې وزارت ۲ ميليونه.
- نور لګښتونه خريداری او يو څه سپما ۶۷ ميليونه.

له نوی بانکنوټ مخکې؛ د افغاني پيسو(روپيو) ارزښت داسې و چې سل کابلي روپۍ ۶۰ هندی کلداری کيدلې دا ځکه چې د ګلداره سپين زرو روپيو دروندوالی دوه نيم مثقاله او د کابلي سپينو زرو د روپيو وزن دوه مثقاله و خو د کابليو روپيو غش په سلو کې لس و وروسته بيا په افغاني روپيو کې غش په سلو کې ۲۵ ته پورته شو او بيې يې د بهرنيو نورو پيسو او په تيره بيا د هندی کلدارو په وړاندی کال په کال کمښت وموند نو ځکه د ريفورم په لومړی پړاو کې د کابل په بازارونو کې د لومړنيو اړتيا وړ شيانو بيې په دی توګه وی:

د کابل دوه نيم چارکه اوړه يوه روپۍ په تاشقرغان کې د کابل اته چارکه په يوه روپۍ، د کابل دری پاوه غوښه يوه روپۍ په تاشقرغان کې د کابل يوه نيم چارکه په يوه روپۍ غوړی يو پاو او دولس مثقاله په يوه روپۍ په تاشقرغان کې يوه نيم په يوه روپۍ نرۍ وريجې په کابل کې يو چارک او دری پاوه يوه روپۍ په تاشقرغان کې يو چارک او دری نيم پاوه په يوه روپۍ وازګه په کابل کې دوه نيم پاوه يوه روپۍ هيندوانه من په يو غيران، البته نويو ريفورمونو پيسې غوښتې، نو ځکه دولت د مالياتو په زياتولو لاس پورې کړ، د بيلګې په توګه د ابې ځمکو ماليات، چې پخوا د جريب په سر پينځه روپۍ، اته روپيو ته پورته شول او د څارويو ماليات هم زيات شول، د اوښ ماليه له دريو څخه څلورو روپيو ته ته د آس ماليه له دوو څخه دريو روپيو ته، غويان له يوې روپۍ څخه دوو روپيو ته، د خره ماليه له دولسو پيسو څخه يوې روپۍ ته او د پسه ماليه له اووه پيسو څخه پنځوسو ته لوړه شوه په ۱۹۲۰ م.کال کې کاغذی يوه پينځه، ۲۵، ۵۰ او سلګيز افغانيګی نوټونه چاپ او خپاره شول او د سرو زرو سکې پينځه امانيه په ۷۵ روپۍ، دوه امانيه په ۳۰ روپۍ او يوه امانيه په ۱۵ روپۍ او نيم امانيه اوو نيمې روپۍ وه. همدارنګه فلزی مسکوکات سپين زر او مس د پيسو د واحد روپۍ اجزاوو، کونډه کيدل د مقياساتو قانون په ۱۹۲۲ کال کې وضع شو.

دا اصلاحات او لاسته راوړنې لا هغه وخت د سيمې نورو هيوادو کې چا نه پيژندې، دغو تحولاتو افغانستان ته يوه نوې او مترقی بڼه ورکړې وه، دا ريفورمونه د سيمې دمستضعفو او ښکيلاک لاندې نورو مستعمراتو لپاره د الهام او قوت سرچينه شوه.

***خاطره*** *: په ۲۰۱۳ م. کې مې په استانبول کې د ترکيې تر ټولو لوی او تاريخی موزيم کوت، که ګورم، افغانستان سره د ترکيې د تاريخی اړيکو لپاره ځانګړی ځای و، چې د غازی امان الله خان په عکسونو ښکلی کړل شوی و. په دی کې هغه د سرو او سپينو زرو سوغاتونه و چې امان الله خان دترکيې د هغه وخت د ضعيف او غورځيدلی اقتصاد سره د مرستې لپاره وراستولی و. څو ځايه مې نور هم د مرستو اسناد وليدل، له هغه ترکی څخه مې په دې هکله وپوښتل، چې ماسره خوا کې و. هغه ځواب راکړ:*

*زموږ د بانکی سيستم په تاريخ کې لومړنی نوم د افغانی شاه امان الله نوم راځی چې د ترکيې داقتصاد او بانک ښسټ يې راسره کلک کړی او زمو د ښوونځيو داقتصاد مضمون کې يې هم نوم شته. ما د وياړ احساس وکړ، احساس مې وکړ چې سترګې مې لمدې شوې، دموزيم انځورونه او ليکنې را ته تت وبريښيدل، ترڅو مې سترګې په دسمال وچې نه کړی د موزيم د نورو انځورونو ليدل راته ګران و. دغه ترکی ته بله په زړه پورې موضوع د بلخ د مولانا اثار و. هغه د مولانا شناسی څانګه لوستې وه او په تصوف او عرفان کې يې مطالعه لرله، هغه د قونيې په هکله او د مولانا د زيارت*


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

*په اړه هم ښه معلومات لرل، کوم چې دغه ځای او د مولانا زیارت ماصرف یو ځل لیدلی و. هغه به په انګلیسی خبروکې ( darwishan chrkhan) یادونه ډیره کوله. ما ورته د مولانا په هکله داروابناد سرمد او اقبال څو شعرونه واورل (شب تارش مه پندار...)، خو هغه په دری نه پوهید . له دغه موزیم او دغه ترکی ځخه مې دا خاطره نه هیریږي.*



برای مطالب دیگر پوهاند محمد بشیر دودیال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com